ABADI weekly
هفته نامه
اباداي اوونيزه
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست
ګڼه ۳۵
نېټه: شنبه، رجب المرجب ۹ مه ، ۱۴۴۵ هـ . ق کال






د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د افغانستان اوسپني پټلۍ اداره دې له هرات څخه تر تور غونډۍ او د فارياب له اندخوی څخه تر مزارشريف پورې د اوسپني پټلۍ شبکو کارونه بشپړ کړي. دغه راز له يادې ادارې څخه له هرات نه د کندهار تر سپين بولدک پورې د اوسپني پټلۍ د غځولو هر اړخيز پلان هم وغوښتل شو.

افغانستان د نړۍ يو له هغو هېوادونو څخه دی چې سمندر ته لار نه لري. په نړۍ په ځانګړي ډول اسيا کې هغه هېوادونه چې په وچه کې پراته دي، د دوی له پاره تر ټولو غوره، خوندي او ارزانه ترانسپورټ د رېل ګاډي ترانسپورټ دی. دغه راز دا ډول ترانسپورټ د سوداګرۍ له پاره اړين دي، ځکه ددې ترانزيټي او مواصلاتي زېربنا له رغونې پرته د يوه هېواد سوداګري نه غوړېږي او نه پرمختګ کولای شي. بله دا چې د چټکې سوداګرۍ د ودې لپاره کولای شو د رېل پټلۍ له لارې د سيمې او نړۍ ګڼو سوداګريزو مارکېټونو ته ځان ورسوو او پرته له دې موږ نه شو کولای د سيمه ييز اتصال تر عنوان لاندې د سيمې او نړۍ له سترو اقتصادي او سوداګريزو بازارونو سره وصل شو.

اسلامي امارت پر دې پوهيږي چې افغانستان په وچه کې ايسار هېواد دی او د ځمکنيو لارو او رېل پټلۍ پرته نه شي کولای له ګاونډيو او په ټوله کې له نړۍ سره خپلې سوداګريزې اړيکې ټينګې او راکړه ورکړه ترسره کړي. نو ځکه خو هڅه کوي چې تر ټولو لومړی هغه رېل پټلۍ چې کارونه يې څه ناڅه پاتې دي، د هغو کارونه بشپړ کړي او تر څنګ يې د نويو ريل پټليو د غځولو له پاره طرحې او پلانونه چمتو کړي. اسلامي امارت غواړي د امکاناتو په برابرېدو سره نوې رېل پټلۍ لکه له هرات څخه د کندهار تر سپين بولدک پورې رېل پټلۍ جوړې کړي. اوسمهال افغانستان د ايران ترڅنګ د منځنۍ آسيا هېوادونو سره د رېل پټلۍ له لارې نښلول شوی دی خو اسلامي امارت هڅه داده چې دې برخې ته لا پراختيا ورکړي او پر مټ يې خپله سوداګري نړيواله او په برکت يې اقتصاد پياوړی کړي.

## د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه د روان لمريز کال د جدي مياشتې په ۲۸مې نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د ټاکل شوو موضوعاتو په اړه بحث وشو.

د اقتصادي کمېسيون په دغه نوبتي غونډه کې د شوکاڼو ډبرو پر سر د ټاکل شوې رويالېټي او ګمرکي تعرفې د ټيټېدو په اړه بحث وشو. تر مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د استخراج شويو شوکاڼو، چې نيمه پروسس يې شوی وي، في ټن رويالېټي دې له ۱۸۰۰ افغانۍ څخه ۱۲۰۰ افغانيو او ګمرکي تعرفه له ۱۰۰۰ افغانۍ څخه ۸۰۰ افغانيو ته راټيټه شي. په غونډه کې پرېکړه وشوه چې دا تصميم يوازې په ساحه کې د پرتو ډبرو په مورد کې نيول شوی او د استخراج د بيا پيل په صورت کې به د رويالېټي او هم د ګمرکي تعرفې په اړه تجديد نظر کېږي. همدارنګه د شوکاڼو ډبرو سوداګر مکلف شول تر څو په ساحه کې پرتې ډبرې د پنځو مياشتو په جريان کې بهر ته صادرې کړي.

همدارنګه په ياده غونډه کې د کابل ښار په کوټه سنګي ساحه کې د خصوصي سکټور له لورې د ملت سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه د اقتصادي کمېسيون د نظر په پام کې نيولو سره منظوره شوه. د دغه طرحې له مخې خصوصي سکټور ۱۲ پوړيز سوداګريز مارکېټ د شاوخوا

۳۲۴ میلیونه افغانۍ پانګونې سره جوړوي. همدا ډول د اقتصادي کمېسيون له لوري د هلمند په لښکرګاه ښار کې د خصوصي سکتور له لوري د سوداګريز او هستوګنيز مارکېټ د جوړولو طرحه هم منظوره شوه. د دغه طرحې لـه مخې خصوصي سـکتور پنځه پوړيز سـوداګريز او هستوګنيز مارکېټ د شـاوخوا ۴۰۰ میلیونه افغانۍ په پانګونې جوړوي.

د غونډې په پـای کې د اقتصادي کمېسـيون له غړو وزارتونو او ادارو سره د افغانستان ملي اقتصادي مشورتي بورډ کړنلاره هم شريکه شـوه. د کمېسيون ټولو غړو ته سپارښتنه وشوه څو د يادې کړنلارې د غني کولو په موخه د اقتصادي کمېسيون راتلونکي مجلس ته خپل نظرونه وړاندې کړي. د افغانستان ملي اقتصادي مشورتي بورډ غړي د پوهنتونونو استادان، د اقتصادي چارو کارپوهان او ملي سـوداګر دي چې اسـلامي امارت تـه به د مهمو اقتصادي مسايلو په اړه مشورې ورکوي.



## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ننګرهار ته سفر وکړ

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمريز کال د جدي مياشتې په ۲۶مه نېټه ننګرهار ولايت ته سفر وکړ او هلته يې د دې ولايت په مقام کې له علماوو، قومي مخورو، سوداګرو او ولايتي مسوولينو سره پر کتنې سر بېره د دې ولايت له زر بستريز روغتون څخه هم ليدنه وکړه.

محترم ملا صاحب له علماوو، قومي مخورو، سوداګرو او ولايتي مسوولينو سره د ليدنې پر مهال وويل، د افغانستان د پرمختګ او صنعتي کېدو په موخه د دوی ټوله هڅه دا ده څو په کور دننه د خپلې اړتيا وړ برېښنا توليد کړي، چې په دې سره به د هېواد اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره شي. محترم ملا صاحب زياته کړه، چې د سوداګرۍ او ترانزيټ کچې د زياتېدو په موخه يې د کابل – جلال آباد لويې لارې د دوهم سړک جوړولو پروژه هم په خپلو کاري لومړيتوبونو کې نيولې، چې په نږدې راتلونکې کې به يې د ټولګټو محترم وزير د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله  سره شريکه او منظوري به يې واخلي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، اسلامي امارت په پام کې لري چې په نږدې راتلونکې کې د ننګرهار د سوداګرو ملاتړ په موخه د شوکاټو پر صادراتو ټاکل شوې ګمرکي تعرفه راکمه کړي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال وويل چې اسلامي امارت د خپلو اړوندو ارګانونو او له ملي سوداګرو سره په ښې همغږۍ هېواد ته د راستانه شوو کډوالو ستونزو ته په وخت او ښه ډول رسېدنه کړې ده.

محترم ملا صاحب په بهر کې پر ټولو مېشت افغان کډوالو غږ وکړ چې خپل هېواد ته راستانه شي، اسلامي امارت دوی ته هرکلی وايي او تر خپل توان پورې يې ملاتړ کوي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د ننګرهار ولسونو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت به په تدريج سره د امکاناتو برابرېدو په صورت کې د دوی ستونزو او غوښتنو ته رسېدنه وکړي.

همدارنګه محترم ملا صاحب ننګرهار ته د خپل سفر پر مهال د دې ولايت له زر بستريز روغتون څخه هم ليدنه وکړه. محترم ملا صاحب له ياد روغتون څخه د ليدنې پر مهال وويل، چې دوی به اړوند ادارو ته د دغه روغتون د پاتې چارو بشپړولو لارښوونه وکړي، څو يې پاتې کارونه په وخت تکميل او ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د روان لمريز کال د جدي مياشتې په ۲۷مه نېټه بېرته کابل ته راستون شو.





## نشست نوبتی کمیتۀ سرمایه گذاری بین الوزارتی برگزار شد

نشست نوبتی کمیتۀ سرمایه گذاری بین الوزارتی در قصر مرمرین برگزار و طبق آجندا پیرامون طرح های سرمایه گذاری بحث همه جانبه صورت گرفت.

در نشست گزارش کمیتۀ مؤظف در مورد طرح ایجاد کمپلکس تولگیت در منطقه پلچرخی کابل از سوی سکتور خصوصی به منظور ارزیابی پیشکش گردید، که طرح مذکور بعد از ارزیابی تائید و جهت منظوری به کمیسیون اقتصادی راجع گردید.

همچنان در این نشست گزارش کمیته تعیین شده پیرامون طرح اعمار مرکز تجارتی در ساحه قوای مرکز از سوی سکتور خصوصی برای ارزیابی ارایه شد،که با در نظرداشت تعدیلات آمده از جانب کمیتۀ سرمایه گذاری



بین الوزارتی طرح یادشده تائید و جهت منظوری به کمیسیون اقتصادی راجع گردید. در این جلسهٔ طرح ایجاد تیرپارک‌ها در مسیر شاهراه های مهمند دره ننگرهار، خنجان بغلان و جبل السراج پروان از سوی سکتور خصوصی پیشکش شد، که بعد از بحث مفصل به نماینده گان وزارت ترانسپورت و هوانوردی وظیفه سپرده شد تا ارزیابی اقتصادی و مالی این طرح را فقط در یکی از ولسوالی های متذکره انجام و همچنان در مورد وقت آن با ارایه کننده گان طرح بار دیگر نشست داشته باشند و گزارش خود را به این کمیته پیشکش نمایند.

به همین شکل در این نشست کمیته بین الوزارتی طرح های ایجاد شفاخانه کمپلکس معالجوی امراض سرطانی در شهر کابل و اعمار مرکز تجارتی در ناحیه اول شهر جلال آباد در زمین شاروالی از سوی سکتور خصوصی ارایه گردید، که بعد از بحث همه جانبه به کمیته های مؤظف وظیفه داده شد تا در مورد جوانب مالی و اقتصادی طرح های یادشده و همچنان پیرامون وقت قرارداد آن ها با شرکت های ارایه کننده بار دیگر نشست دایر و گزارش خویش را در ظرف دو هفته به کمیتهٔ بین الوزارتی پیشکش نمایند.





# در شهر کابل تا اکنون ٤٨٧٦٤ گدا جمع آوری گردیده است

کمیته جمع آوری گدایان علاوه از شهر کابل سلسله جمع آوری گدایان را در سایر ولایت های کشور مانند؛ ننگرهار، بلخ، نورستان، پکتیا و لوگر نیز آغاز نموده، که تا این دم هزاران گدا را جمع آوری نموده است.

این پروسه که نخست از شهر کابل شروع گردیده بود، به تعداد ۴۸۷۶۴ گدا تا ۲۸ جدی سال روان از ساحات مختلف شهر کابل جمع آوری گردیده است. از جملهٔ گدایان جمع آوری شده ۱۴۸۷۴ زن، ۷۷۱۴ مرد و بقیه ۲٦۱۷٦ طفل می باشند.

در میان این اطفال ۷۷ تن آن بی سرپرست می باشند. اطفال بی سرپرست بعد از بایومتریک از طرف وزارت کار و امور اجتماعی شامل پرورشگاه گردیده و در آن جا علاوه از اعاشه برای شان زمینه آموزش نیز فراهم می گردد. قابل یاد آوریست که سلسهٔ توزیع کمک های نقدی و مواد خوراکی ماهانه برای گدایان مستحق علاوه از شهر کابل در سایر شهرهای بزرگ کشور آغاز گردیده و این پروسه ادامه دارد.





# په ۱٤۰۲ لمريز کال کې
# د دولتي شرکتونو وضعيت ته ځغلنده کتنه

**ليکوال: امان‌الله حنيفي**

دولتي شرکتونه او تصدۍ د خدماتو وړاندې کولو او کاري فرصتونو رامنځته کولو په موخه فعاليت کوي، چې د دولت له لوري يې بشپړ ملاتړ کېږي. دولتي شرکتونه مختلف ونډوال لري چې د پانګونې نيمايي يعنې پنځوس سلنه ونډوال يې حکومتي لورى وي. که چېرې په يو هېواد کې په زياته کچه دولتي شرکتونه فعاليت ولري، له شک پرته چې هم به په ښه ډول خلکو ته خدمات وړاندې کړي او هم به د يو هېواد د ملي اقتصاد په وده کې مهم رول ادا کړي.

د ماليې وزارت په چوکاټ کې ۴۴ دولتي شرکتونه، شتون لري چې له بده مرغه د اشغال پر مهال ورته سخت زيان ورسېد. نږدې د ټولو تصديو او دولتي شرکتونو فعاليت په ټپه ودرېد او په دې برخه کې ډېرى هېوادوال بې‌کاره شول. خو اوسمهال چې له نېکه‌مرغه په افغانستان کې يو بشپړ خپلواک او اسلامي نظام حاکم شوى، ټوله هڅه ادا ده چې د دولتي تصديو او شرکتونو په قانون او اساسنامه کې د لازمو تعديلاتو په راوړلو سره بېرته يادې دولتي تصدۍ او شرکتونه فعاليت پيل کړي. د



دولتي شرکتونو عمومي ریاست مسوولین وایي چې د اسلامي امارت له بیاځلي واکمنۍ را وروسته د ۴۴ دولتي شرکتونو له جملې یې د تېرو دوو کلونو پر مهال ۱۳ فلج او د تولید له مخې په ټپه درېدلي شرکتونو بېرته فعال شوي. د دولتي شرکت عمومي ریاست د مسوولینو په خبره، د هلمند بُست د پنبې او نباتي غوړیو، د ارزاقو، د افغانستان نفت او ګازو، د بلخ پنبې او نباتي غوړیو، د کندوز سپین زر، ملي بس، د افغان کارټ، مرکزي سیلو، د بلخ سیلو، د لاسي صنایعو پراختیا، د پلخمري نساجي، د کندهار پشمي نساجي او افغان طیور هغه دولتي شرکتونه دي چې د اسلامي امارت له لوري بېرته فعال او په تولید یې پیل کړی دی.

اوس‌مهال دغه شرکتونه غوړي، پنبه، ټوکر، صابون، کاغذي دستمالونه، نظامي یونیفورم، لاسي صنایع او بېلابېل خوراکي توکي تولیدوي او پر دې سربېره په مختلفو برخو کې هېوادوالو ته باکیفیته خدمات هم وړاندې کوي. د دولتي شرکتونو د بیاځلي په پښو درېدو سره اوسمهال ۳۸ زره تخنیکي او مسلکي کسانو ته په مستقیم او ۱۰ زره کسانو ته بیا په غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده. د دولتي شرکتونو له لوري د کاري زمینې رامنځته شوې فرصت د تېرو ۲۰ کلونو پر مهال بې مخینې او د پام وړ زیات دی. د تېرو ۲۰ کلونو پر مهال ډېر کم شمېر هېوادوال په دولتي شرکتونو کې پر کار مصروف وو، چې ډېری وخت به یې د شرکتونو د مسوولینو له لوري ان امتیازونه هم نه ورکول کېدل.

په پورته ذکر شوو برخو کې د دولتي شرکتونو فعالیت او لسګونو زرو هېوادوالو ته د کاري فرصتونو برابرول د کورني صنعت پر وده مثبت اغېز لرلی او له شک پرته چې د فعالیت په زیاتېدو سره به یې افغانستان په ډېرو برخو کې خودکفایی ته یو قدم نور نږدې شي. د کورني صنعت وده د یو هېواد د ملي اقتصاد په پیاوړي کولو کې اساسي رول لري او د اسلامي امارت په راتګ سره د کورني صنعت د ودې لپاره ډېر اساسي ګامونه اخیستل شوي، چې تر ټولو ښه بېلګه یې د یادو دولتي شرکتونو فعالېدل او په اساسي ډول بیارغونه ده.

د ۱۴۰۲ لمریز کال له پیل تر دې مهاله د دولتي شرکتونو له لارې د دولت خزانې ته شاوخوا ۹ میلیارده افغانۍ عواید جمع شوي او تمه ده چې د کال تر پایه به دا کچه شاوخوا ۱۴ میلیارد افغانیو ته ورسېږي. د دولتي شرکتونو په تاریخ کې په یاده کچه د عوایدو راټولېدل بې مخینې رقم دی.

د افغانستان اسلامي امارت ژمن دی چې د یادو شرکتونو د فعالیت برخو ته د کورنو او بهرنیو پانګوالو په ملاتړ لا نور وسعت هم ورکړي او پرمختللې ټکنالوژۍ او ماشینري ورته راوړي. نه یوازې دا شرکتونه، بلکې ټول هغه دولتي شرکتونه او تصدۍ به بېرته په اساسي ډول ورغوي کوم چې اوسمهال فعالیت نه کوي. په دولتي شرکتونو کې خصوصي سکټور ته د پانګونې ښه زمینه برابره شوې ده. د دولتي شرکتونو په بیاځلي فعالیت سره به د دولت خزانې ته په کلنې ډول په میلیاردونو افغانۍ عواید جمع شي، په ښه ډول به خلکو ته خدمات وړاندې کړي او زرګونو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه هم برابر کړي، چې دا ټول د هېواد د اقتصاد په وده کې مثبت رول لوبوي.









## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ؋۷۲.۳۰ | ؋۷۲.۳۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانۍ کلدارې | ؋۲۵۰ | ؋۲۵۱ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۱,٤٠ | ؋۱,٤٢ |
| ۱ | اروپایي یورو | ؋۷۹,٦٠ | ؋۷۹.۸۰ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,٦٦ | ؋۰.۷٦ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋۸۲۹ | ؋۸۳۹ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ؋۹۱,۸۵ | ؋۹۱,۹۱ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۸,۵۷ | ؋۱۸,٦٧ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹.۱۰ | ؋۱۹.۲۰ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,۸۷ | ؋۹,۹۷ |